مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال

۲۰۲۱/۱۲/۱۴

# جـا هـــلـه!

هم دی په ځان هم دی په مونږ جوړ کړی
دلـتـه په دې دنیـا قـیـامـت جـا هـلـه !

شـر جـوړول خـو د ابـلـیـس دنـده ده
ستا ولی خوښ شـو شـرارت جـاهـلـه !

که مـیـنـه نـه پـیژني مـه يې کـوه خـو
مـکـړه د بـل مُـخـالـفت جـا هـلـه !

سـلـطـنت کـیږی په نـرمـی په زړونـو
نه شي په زور په زړه حکومت جاهله !

تمـیز د ښـه او بـد پـه پـوهـه کـیـږی
پـه تـوپـک نه شـی قـضـاوت جـا هـلـه !

نـه ده دنـیـا تـولـه د چـا دښـمـنـه
چی نه وی ښوک ډیر ملامت جاهله !

تول بنیادم چی کوم شریک شی لری
د هـغـه نـوم دی انـسـانـیـت جـاهـلـه !

ځان دی له دی صفه خارج که کړلو
تولګی ته ځي د حـیـوانیت جـاهـلـه !

د خدای ج په حکم ځانته ورکړه تغیر
لا هم لـری کافـی فـرصـت جـاهـلـه !

دنیـا ښـایـسـتـه ده او ژوند دی امانت
خـیـانـت نـکړی امـانـت جـا هله !

دیسمبر/۲۰۲۱/۸ (اجکس – هورنتو – کاناډا)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ